په کلیوالي سیمو کې د اوبو
رسولو، روغتیاساتنې او اوبو لګولو
د ملي پروګرام

# د روان (۲۰۱۹) کال په جون میاشت کې د څښلو د اوبو او اوبونې (۲۸) پروژې بشپړې شوې دي



د روان (۲۰۱۹) کال د جون د میاشتې په لړ کې د کلیو د بیارغونې او پرمختیا وزارت، په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو، روغتیاساتنې او اوبو لګولو د ملي پروګرام له لوري د هېواد په (۱۲) ولایتونو کې د څښلو د اوبو، حفظالصحې او پاکوالي یا (واش) او اوبونې (۲۸) پروژې تکمیلې او د خلکو ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.

# یادې بشپړې شوې (۲۸) پروژې عبارت دي له:

## ۱

د بلخ ولایت په چمتال ولسوالۍ، د وردګو ولایت په مرکزي بهسودو ولسوالۍ، د ننګرهار ولایت په کوټ او دُر بابا ولسوالیو، د پکتیکا ولایت په یحیاخېلو ولسوالۍ، د تخار ولایت په مرکز تالقانو او خواجه‌غار ولسوالۍ، د کنړ ولایت په مره‌وره ولسوالۍ، د هرات ولایت په انجیل ولسوالۍ، د دایکنډي ولایت په شهرستان ولسوالۍ او د غور ولایت په مرکز فیروز کوه کې د ښځو د اوبو د (۱۵) شبکو جوړول.





## ۲

د کندهار ولایت په ژیړی ولسوالۍ کې د اوبونې د (۷۸۹) متره اوږده کانال جوړول

## ۳

بغلان ولایت په پلخمري او نهرین ولسوالیو کې او د تخار ولایت په روستاق ولسوالۍ کې د (۲۱) څاه ګانو کیندل او په هغوی باندې د لاسي بمبمو نصبول

## ٤

د بغلان ولایت په مرکزي بغلان او نهرین ولسوالیو کې په دوو هغو شبکو کې د برېښنایي سیستم نصبول چې پخوا یې د ډیزلو په مټ کار کاوه

## ٥

د هلمند ولایت د مرکز د بوست سیمې په (B-۲-۱) ساحه کې د مبرزونو رغول، د لاس مینځلو د آسانتیاوو برابرول او د هغه ځای خلکو ته د څښلو د اوبو برابرول .



## د دغې پروژې ټول ټال لګښت

**(یونیسف)**

**۴۵,۰۰۷,۳۹۲**
افغانۍ

**(وزارت مالیه)**

**۱۷,۳۱۷,۰۹۷**
افغانۍ

**۶۲,۳۲۴,۴۸۹**
افغانۍ

## د حفظالصحې او پاکوالي د تعلیماتو ځانګړې فعالیتونه

د اوبو رسولو د ملي پروګرم د حفظالصحې او پاکوالي د تعلیماتو ځانګړې په بامیانو، غور، او بدخشان ولایتونو کې (۷۰) کلي په خلاصه فضا کې له رفع‌حاجت او چټلیو نه پاک تایید او (۳۴) نور پاک اعلان کړي او د کورني روغتیایي کاري ډلو شاوخوا (۱۸۰) غړو او د ټولنې (۱۳۲) مشرانو ته یې د حفظالصحې او پاکوالي په اړه روزنې ورکړې دي.

